**د افغانستان بانک**

**د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې لوی آمریت**

د مقرراتو او د برېښنايي پیسو او ادایېزو مؤسسو د څارنې مرستیالیت

د مقرراتو ستر مدیریت

گڼه: ۳۸۵ ۴۶۰ ۱۴۴۳/۱۱/۱۷

نېټه: ۸/۱/1448

۱۴۰۵/۸/۳

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د برېښنايي پیسو او ادایېزو د قدر وړ مؤسسو ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته،

**ماهیت:** متحدالمال

**موضوع :** <u>د مؤسسې له تشکیلاتي جوړښت څخه بهر د کسانو گمارنه</u>

له ډېر درناوي وروسته؛

غیر بانکي مالي مؤسسې اړې دي چې د اړونده مقررې یا کړنلارې سره سم خپل تشکیلاتي جوړښت ولري او د هغه مطابق اړونده بستونو ته وړ کسان د آزاد رقابت له طریقه وگماري. پدې اساس ټولو مؤسسو ته هدایت ورکول کیږي چې د مؤسسې په تشکیلاتي جوړښت کې د شته بستونو څخه پرته اضافي گمارنې ترسره نکړي.

د یادونې وړ ده، که چیرې په مؤسسه کې کوم نوی بست ته اړتیا لیدل کیږي، لومړی دې بست په تشکیلاتي جوړښت کې اضافه او د مؤسسې څار پلاوي د پریکړې څخه وروسته د افغانستان بانک ته د تائیدي لپاره واستوي او وروسته دې د اړونده بست د گمارنې په اړه اصولي اجراآت ترسره شي.

د افغانستان بانک ستاسو په چارو کې د لا بریاوو غوښتونکی دی. **والسلام**

۱۴۴۸/۱/۷

صدیق الله خالد

**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

**کاپی:**

- د وړو تمویلونو د قدر وړ مؤسسو ته (د اجراآتو په موخه)؛
- د وړو تمویلونو مؤسسو د قدر وړ اتحادیې ته (د معلوماتو او لازمو اجراآتو په موخه)؛ او
- د برېښنايي پیسو او ادایېزو مؤسسو د قدر وړ اتحادیې ته (د معلوماتو او لازمو اجراآتو په موخه).

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون۲۱۰۴۲۶۱ (۲۰) ۰۰۹۳/ ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب سایتdab.gov.af

تولنیزې شبکې فیسبوک - د افغانستان بانک / توییتر - AFGCentralbank@ / انستاگرام - AFGCentralbank